# شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**د رمضان مبارك فضائل او ځانګړتياوي**

**رسول الله** صلی الله علیه وسلم **فرمايي:** پرتاسي د رمضان مبارك مياشت راغله، چي الله تعالی د دغي مياشتي روژه پر تاسو فرض کړې ده، په دغه مياشت کي د جنت دروازې پرانيستل کېږي او د دوزخ دروازې بندېږي، په دې مياشت کي شيطانان تړل کېږي، په دې مياشت کي الله جل جلاله ته يوه شپه ډېره غوره ده، چي په دې شپه کي عبادت کول له زرو مياشتو غوره دئ. [رواه النسائي]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


پنجشنبه | د رمضان المبارک ٤ -١٤٤٥ال س/ د کب ٢٤-١٤٠٢ال ل/ د مارچ ١٤-٢٠٢٤ز/دوهم کال / ٩١ گنه/ ٤ مخیز




## سر مقاله

### تجارت یکی از فعالیت های پرسود و مطمئن

زمانیکه کشور بتواند با سایر کشورها مبادلات تجاری داشته باشد میتواند در زمینه های مختلف مهارت و دانش بهتر را از هر کدام از آنها وارد مرزهای خود کند. تجارت یکی از فعالیت های پرسود و مطمئن برای درآمدزایی می باشد که امروزه کمتر به آن توجه می شود. در هر بازده زمانی میتوان از روش های فعالیت مختلفی برای انجام فعالیت های تجاری استفاده کرد. بسیاری از کشور های که دارای تکنالوژی پیشرفته در زمینه های مختلف هستند، تمایل به احداث کارخانه های خود در کشور های که دارای منابع اولیه مناسب هستند، دارند. تحت این شرایط تولید با قیمت پایین تر میسر شده و ضمن افزایش درآمد های آن کشور، تکنالوژی تولید محصولات جدید نیز وارد کشور شده و توانایی کشور در تولید اموال و خدمات مختلف افزایش خواهد یافت.

امروز اقتصاد بیشترین نقش را در تحولات سیاسی و اجتماعی ایفا می کند به عبارت دیگر اقتصاد تنظیم کننده‌ی کلیه‌ی رفتارها و حتی برخورد ها و چالش های است که در رابطه میان جامعه و دولت ها رخ می دهد.

از آنجایی که وابستگی روزافزون کشورها به یک دیگر به علت افزایش و تنوع حجم مبادلات اموال و خدمات بین کشورها، گردش جهان سرمایه و همزمان با آن توسعه‌ی سریع تکنالوژی اقتصاد را تحت تاثیر قرار می دهد. شاید عامل اصلی تحقق جهانی شدن اقتصاد، پیشرفت فناوری اطلاعات است که هزینه های ارتباط راه دور را کاهش داده، اهمیت فاصله را در فعالیت اقتصادی به حداقل رسانده، تولید را افزایش داده و در نهایت باعث افزایش رشد اقتصاد شده است.

در حالی که به همان پیمانه تقاضا در افغانستان برای اجناس وارداتی روبه رشد است، برای اجناس صادراتی نیز به همین اندازه است.

از آنجایی که افغانستان داری اجناس و اموالی صادراتی نسبتاً اندکی است با آن هم توانسته در نتیجه تطبیق پالیسی های مؤثر ریاست عمومی گمرکات و توجه خاص رهبری وزارت مالیه، فعالیت های گمرکات (پکتیا، فراه، هرات، نیمروز، ننگرهار، بلخ، قندز، خوست و قندهار) در بخش های جمع آوری عواید، تجارت انجام شده، ارزش گمرکی اموال وارداتی و تعداد و وزن ثبت شده محموله های تجاری در سال مالی جاری به طور اوسط (۲۰٪) بهبود یافته است که بیشترین عواید گمرکی از گمرکات مذکور به دست می آید.

با این حال میزان صادرات و واردات نیز افزایش یافته است. بعید نیست که عدم توازن در ارقام تجارت در آینده نزدیک مرفوع شود. اموالی وارداتی عمده‌ی که در داخل کشور تولید می شود، ظرفیت صادرات را میتواند بالا برد .

همچنین ارتقای روابط بین افغانستان و ازبیکستان و افغانستان ترکمنستان، سهولت های بسیاری در تجارت و صادرات افغانستان به وجود آورده است که از جملهٔ آن، فراهم شدن بازار های بیشتر برای محصولات افغانستان در کشور های آسیای مرکزی و کاهش نرخ تعرفه های مالیاتی و گمرکی و اتصال افغانستان به خطوط آهن منطقه یی می باشد.


خط آهن افغانستان ترکمنستان از مسیر تورغندی که بخشی از شبکه ملی خط آهن افغانستان و منطقه است و در عین حال، تجارت میان دو کشور از این طریق، بیشتر تسهیل و تسریع خواهد یافت.

اگر محیط و شرایط تجارت در کشور مساعد شود از طرف دیگر جذب سرمایه گذاران در کشور بیشتر گردد، افغانستان به صادرات قابل ملاحظه‌ی دست خواهد یافت.

**با احترام**

**اداره**

## ماليې وزارت د يو شمېر دولتي ادارو لپاره په سلګونو زره جلده ارزښت لرونکي سندونه چاپ کړي دي



د ماليې وزارت له لوري د ټولو بوديجوي واحدونو سره د نږدې همکاريو سربېره په (۱۴۰۲هـ.ل) مالي کال کي دغه وزارت د خپلي پراختيايي بوديجې په واسطه د يو شمېر دولتي ادارو د اړتيا وړ په سلګونو زره جلده ارزښت لرونکي (بهادار) سندونه چاپ کړي دي.

ماليې وزارت په (۱۴۰۲) مالي کال کي د خپلي پراختيايي بوديجې په چوکاټ کي د ارزښت لرونکو سندونو د چاپ پروژه درلوده، چي د يو شمېر وزارتونو او ادارو لپاره په سلګونو زره جلده د ارزښت لرونکو سندونو چاپول هم پکښي شامل ول.

د ماليې وزارت له لوري په (۱۴۰۲) مالي کال کي د خوندي اسنادو د چاپ دولتي مطبوعې لپاره (۲۹۵۴۵۰۰۰۰) ميليونه افغانۍ او د صکوکو دولتي مطبوعې لپاره (۴۵۸۴۰۹۶۹۹) ميليونه افغانۍ په پام کي نيول سوي وې، چي په دغه کال کي پرې د (۱۱) وزارتونو او دولتي ادارو لپاره د اړتيا وړ سلګونه زره جلده ارزښت لرونکي سندونه چاپ سوي دي.

په دغو ارزښت لرونکو سندونو کي، د سوداګرۍ جوازونه، د صادراتو او وارداتو ضميموي فورمونه، د صادراتو او وارداتو فورمونه، طبي جوازونه، د ويزو سټېکرونو، د پاسپورټ د تمديد سټېکرونو، د بارنامو کتابچې، د معاملاتو لاربښود، د چاپيريال ساتني جواز، د دولسم ټولګيو شهادتنامې، د پوهنتونونو ټرانسکريپټ او ډيپلومونه، د مسلکي زده کړو د اداري ډيپلومونه او شهادتنامې، د رسنيو جواز، د (ټي ۲) فورمې او د بررسي او قوانينو جوازونه شامل دي، چي د ماليې وزارت د پراختيايي بوديجې په مټ، په معياري بڼه د يادو دولتي مطبوعو له لوري چاپ سوي دي.

## د هيواد د سترو ګمرکونو چاري د تېر کال په پرتله ۲۰ سلنه نوري هم مثبتي سوي دي



د ګمرکونو لوی رياست د اغېزمنو پاليسو د پلي کېدو او د ماليې وزارت د رهبرۍ د ځانګړي پاملرني په پايله کي د تېر کال سلواغې مياشتي په پرتله د عوايدو راټولېدو، ترسره سوي سوداګرۍ، د وارداتي توکو ګمرکي ارزښت او د سوداګريزو محمولو د شمېر او ثبت سوي وزن په برخو کي د (پکتيا، فراه، هرات، نيمروز، ننګرهار، بلخ، کندز، خوست او کندهار) ګمرکونو چاري په روان مالي کال کي په منځني ډول (۲۰٪) نوري هم مثبتي سوي دي، چي د ګمرکي عوايدو ستره برخه له يادو ګمرکونو څخه ترلاسه کېږي.

د ماليې وزارت رهبري د يادو ګمرکونو د مسؤلينو او کارکوونکو صادقانه کړني او د دوی ترسره سوي فعاليتونه ستايي او قدرداني ئې کوي.

## ماليې وزارت په ۱۴۰۲ کال کي د ازموينو د ازادو سياليو له لاري وړ کسان پر دندو ګومارلي دي



په (۱۴۰۲) مالي کال کي د ماليې وزارت له لوري په اړوندو تشو بستونو کي د مسلکي کسانو د ګومارني، کار اهل کار ته د سپارلو، د مسلکي کادرونو لپاره د کاري فرصتونو برابرولو او د يوې تل پاتي مسلکي اداري د جوړولو په موخه؛ د ازادو سيالو له لاري د ازموينو په پروسو کي نږدې (٦۰۰) کسانو ګډون کړی دئ.

د ماليې وزارت له لوري د ګومارني ټولي ازمويني د ټاکل سوو اصولو سره سم په بشپړي روڼتيا سره اخيستل سوي، چي له همدې لاري په (۱۴۰۲) مالي کال کي، د دغه وزارت اړوند بېلابېلو بستونو کي، څه باندي (۱۲۰) مسلکي کسان پر دندو ګومارل سوي دي.

د ماليې وزارت رهبري د دې وزارت د چارو مهموالي او مسلکيتوب ته په کتو هڅه کوي، چي د هيواد مسلکي، تجربه لرونکي او په کار پوه کادرونه د ازموينو د ازادو سياليو له لاري په اړوندو بستونو کي پر دندو وګوماري او له همدې لاري ولس ته پر وخت غوره او شفاف خدمتونه وړاندي کړي.



**ماليې وزارت د نويو ګومارل سوو کارکوونکو لپاره نږدې ۵۰ روزنيز پروګرامونه جوړ کړي**


م ۲




**په دريو ختيځو ولايتونو کي د عامه پوهاوي سيمينارونه وړاندي سول**


م ۲




**د ګمرکونو او عوايدو معينيت په انګړ کي د ښکلا په موخه ۴۰۰ نيالګي کښېنول کېږي**


م ۲




**د هرات ولايت د ګمرک رياست کارکوونکي په روژه کي تر ټاکلي رسمي مودې زيات کار کوي**


م ۲




**نقش پروژه های ملی در اقتصاد یک کشور**


م ۳





**د کاسا - زر (CASA-۱۰۰۰) پروژه د نړيوال بانک له خوا د بيا ملاتړ په خاطر بيرته را ژوندۍ سوه**


م ٤

# مالیې وزارت د نویو گومارل سوو کارکوونکو لپاره نږدې ۵۰ روزنیز پروگرامونه جوړ کړي



د مالیې وزارت فعالیتونه د هیواد د یوه کلیدي او مسلکي وزارت په توگه په ملي کچه له خورا ارزښت څخه برخمن دي، له همدې کبله د دغه وزارت اړوند په ټولو ادارو کې د اشخاصو گومارني؛ وړتیا، رښتینولۍ او مسلکیتوب ته په کتو د ازادو سیالیو له لارې ترسره کېږي او تر څنگ ئې نویو گومارل سوو کارکوونکو ته، په اړوندو برخو کې د چارو د ښه پرمخ وړلو په موخه گټور روزنیز پروگرامونه هم جوړ کړي.

د مالیې وزارت د بشري سرچینو ریاست له لوري په (۱۴۰۲هـ.ل) مالي کال کې د دغه وزارت په بېلابېلو بستونو کې نویو گومارل سوو کارکوونکو ته د مجربو ټرېنرانو له خوا (په مالي، تدارکاتي، پرعایداتو د مالیاتو د قانون، د سیگټاس سیستم، د عوایدو د کړنلارو، تخنیکي، مدیریتي، د رهبرۍ او مسلکیتوب) برخو کې گټور نظري او عملي روزنیز سیمینارونه جوړ سوي دي.

د یادوني وړ ده، چې د بشري سرچینو ریاست له لوري نویو گومارل سوو کسانو ته د روزنو دغه لړۍ روانه ده او په راتلونکي کال کې به همدا لړۍ په نویو مېتودونو سره مخته ولاړه سي.

## په دریو ختیځو ولایتونو کي د عامه پوهاوي سیمینارونه وړاندي سول

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو او عوایدو پالیسۍ ریاست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمریت د ننگرهار او کونړ له ولایتونو څخه وروسته په لغمان ولایت کي د مالیاتو په تړاو د عامه پوهاوي سیمینار وړاندي کړ.

په دغه سیمینار کي د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمر سید احمد هائد ، د دغه آمریت د عامه پوهاوي کار پوه عبادالله درمان او د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو او عوایدو پالیسۍ ریاست د قانون لارښووني کارپوه ذبیح الله زاهد ترخنگ د لغمان ولایت مستوفي مولوي غلام مصطفی مستعد، د دغه مستوفیت همکارانو، د اصنافو، هوټلونو، رهنمایي معاملاتو او بېلا بېلو اتحادیو مسئولینو گډون کړی وو.

گډونوالو ته په دې سیمینار کي د مالیاتو پر ډولونو او سنجش، د مالیاتو د ورکړې پر ارزښت ، مالیاتي طرزالعملونو، او د عوایدو لوی ریاست د لاسته راوړنو په اړه معلومات وړاندي سول.

د یادوني وړ ده، چي د دې سیمینار په پای کي د کونړ ولایت د اصنافو ستونزي هم واورېدل سوې، چي د عوایدو لوی ریاست له رهبرۍ سره به د حل په موخه شریکي سي.



## د هرات ولایت د گمرک ریاست کارکوونکي په روژه کي تر ټاکلي رسمي مودې زیات کار کوي

هیوادوالو او ټولو سوداگرو ته د ښو او پر وخت خدمتونو وړاندي کولو او د روژې په مبارکه میاشت کي په بازارونو کي د بیو د کنټرول په موخه د هرات ولایت د گمرک ریاست کارکوونکو خپل کاري وخت د مراجعینو د کارونو تر خلاصېدو پوري غځولی دئ.



اوسمهال د روژې مبارکي په میاشت کي هم د یاد ریاست کاري مهالوېش د پخوا په څېر د سهار په اته نیمو بجو پیلېږي او بیا د کار تر خلاصېدو پوري ټول اړوند شعبات په نورمال ډول خپل اجراآت تر سره کوي. په داسي حال کي، چي د روژې په مبارکه میاشت کي د دولتي ادارو د رسمیاتو پیل د سهار له (۹) بجو څخه تر ماپښین (۲) بجو پوري ټاکل سوی دئ.

## تېره اونۍ د کندهار او نیمروز په ولایتونو کي یوه اندازه قاچاقي توکي نیول سوي

د کندهار او نیمروز گمرکونو د گرځنده څارني کارکوونکو تېره اونۍ د یادو ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي د گزمې په مهال هیواد ته د یوه اندازه قاچاقي توکو د راوړلو مخه نیولې. په دغو نیول سوو توکو کي (۴۵۰۰) کیلو گرامه مالتې او (۴۰۵) کیلوگرامه انساني طبي درمل شامل دي. نیول سوي توکي د نورو اجراآتو لپاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي.

دا لومړی ځل نه دئ، چي هیواد ته د قاچاقي توکو د راوړلو مخنیوی کېږي؛ بلکي د گمرکونو د گرځنده څارني وېښو کارکوونکو د روان کال په اوږدو کي په زرگونو کیلو گرامه بېلابېل توکي نیولي دي. د توکو وړل او را وړل په غیر قانوني توگه او له محصول پرته قاچاق بلل کېږي او د گمرکونو د گرځنده څارني کارکوونکي به هیڅ چا ته د غیر قانوني کړنو اجازه ور نه کړي.



## آمریت ارزیابی اجراآت و سوانح کارکنان وزارت مالیه دیتابس جدید ساخته است

آمریت ارزیابی اجراآت و سوانح کارکنان، ریاست منابع بشری وزارت مالیه که مسئولیت مدیریت و نظارت از امور دفاتر سوانح کارکنان، ارزیابی اجراآت، حاضری کارکنان و سیستم معلوماتی مدیریت منابع بشری را به عهده دارد، دیتابس ابتدایی را در سال ١٣٨٢ ترتیب داده بود که صرف دفاتر سوانح کارمندان در آن ثبت می گردید. اکنون با ساختن دیتابس جدید علاوه بر دفاتر سوانح کارمندان، دفاتر سوانح تمامی کارکنان خدمات این وزارت در مرکز و ولایات ثبت می گردد. در دیتابس جدید خلص سوانح، گزارش کارمندان و اجیران مرکزی و ولایتی ترتیب گردیده که علاوه بر دسترسی سریع مسئولین به آن، می توان با استفاده از این دیتابس، لیست بست های کمبود و لیست کارمندان و اجیران که به تقاعد مواجه می باشند را نیز ترتیب نمایند. این آمریت بمنظور جلوگیری از تقلب، کاهش خطاها، امکان مانیتورینگ کارمندان و دسترسی سریع به اطلاعات، سیستم جدید حاضری الکترونیکی در مرکز وزارت مالیه، واحد های دومی مرکزی وزارت مالیه و ۱۴ مستوفیت های ولایات از قبیل ولایات سرپل، بغلان، تخار، بدخشان، میدان وردگ، پکتیا، خوست، پکتیکا، لوگر، کاپیسا، پنجشیر، پروان، بلخ و کندز نصب نموده و عملاً قابل استفاده می باشد.

مضافاً، آمریت ارزیابی اجراآت و سوانح کارکنان، به منظور دسترسی سریع به اسناد و افزایش امنیت اسناد، تمام دفاتر سوانح و سوابق کارمندان و کارکنان خدماتی این وزارت را اسکن و به دیتابس جدید خویش اضافه می کند. هدف تعیین شده برای اسکن دفاتر سوانح و سوابق (١٦٥٠٠) بوده و توانسته است تا کنون(١٣٨٠٩) سوانح و سوابق را اسکن و ثبت کند که (٢٥٠٠) دوسیه آن تا به حال باقی مانده. قابل یادآوریست که این اداره روزانه (١٥٠) دوسیه سوانح اسکن شده را ثبت می کند که علاوه بر ثبت دفاتر سوانح کارمندان، دوسیه سوانح (٨٦٩) تن کارکنان خدماتی مرکزی و (٦٧٤) تن کارکنان خدماتی ولایتی که مجموعاً (١٥٤٣) تن می شوند، ثبت گردیده است.

## د گمرکونو او عوایدو معینیت په انگړ کي د ښکلا په موخه ۴۰۰ نیالگي کښېنول کېږي



د گمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید د دې ریاست د تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو په شتون کي د گمرکونو او عوایدو معینیت انگړ د ښکلا په موخه د (۴۰۰) زینتي نیالگیو د کښېنولو بهیر پیل کړ. نومړي، د چاپېریال د سمسورتیا او لا ښکلا په موخه د نیالگیو کښېنول اړین وبلل او اړوندو مسؤلینو ته ئې سپارښتنه وکړه، چي د یاد معینیت په انگړ کي د ټولو شنو ونو او نورو بوټو په سمه توگه ساتنه او پالنه وکړي.

## د کونړ ولایت اصنافو او مالیه ورکوونکو ته د مالیاتو په تړاو سیمینار وړاندي سو



د مالیي وزارت د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو او عوایدو پالیسۍ ریاست اړوند د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمریت له لوري په ولایتونو کي د عامه پوهاوي سیمینارونو په لړ کي دا ځل په کونړ ولایت کي د مالیاتو په تړاو د عامه پوهاوي سیمینار جوړ او وړاندي کړ.

په دغه سیمینار کي د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمر سید احمد هائد ، د دغه آمریت د عامه پوهاوي کار پوه عبادالله درمان او د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو او عوایدو پالیسۍ ریاست د قانون لارښووني کارپوه ذبیح الله زاهد ترخنگ د کونړ ولایت د مستوفیت همکارانو او د دغه ولایت د اصنافو، هوټلونو، رهنمایي معاملاتو او بېلا بېلو اتحادیو مسئولینو گډون کړی وو.

گډونوالو ته په دې سیمینار کي د مالیاتو پر ډولونو او سنجش، د مالیاتو د ورکړې پر ارزښت ، مالیاتي طرزالعملونو او د عوایدو لوی ریاست د لاسته راوړنو په اړه معلومات وړاندي سول.

د یادوني وړ ده، چي د دې سیمینار په پای کي د کونړ ولایت د اصنافو ستونزي هم واورېدل سوې، چي د عوایدو لوی ریاست له رهبرۍ سره به د حل په موخه شریکي سي.

شتمنی SHTAMANI اوونیزه

# نقش پروژه های ملی در اقتصاد یک کشور

سعید رزمنده

پروژه های ملی، پروژه هایی هستند که به طور مستقیم یا غیر مستقیم تأثیر قابل توجهی بر کل اقتصاد یک کشور دارند. این پروژه ها می توانند در زمینه های مختلف اقتصادی، مانند زیرساخت ها، تولید، تحقیق و توسعه، یا آموزش و پرورش اجرا شوند.

نقش پروژه های ملی در رشد اقتصادی: پروژه های ملی می توانند نقش مهمی در رشد اقتصادی یک کشور ایفا کنند. این پروژه ها با افزایش سرمایه گذاری، ایجاد کاریابی، و افزایش بهره وری، می توانند به رشد تولید ناخالص داخلی کمک کنند.

سرمایه گذاری: پروژه های ملی می توانند با جذب سرمایه داخلی و خارجی، به افزایش سرمایه گذاری در اقتصاد یک کشور کمک کنند. این امر می تواند به افزایش تولید و ایجاد کاریابی منجر شود.

کاریابی: پروژه های ملی می توانند فرصت های شغلی زیادی را برای افراد ایجاد کنند. این پروژه ها به ویژه می توانند برای افراد کم مهارت و بیکار مفید باشند.

بهره وری: پروژه های ملی می توانند با بهبود زیرساخت ها، فناوری، و آموزش، به افزایش بهره وری در اقتصاد کمک کنند. این امر می تواند به کاهش هزینه های تولید و افزایش رقابت پذیری منجر شود.

نقش پروژه های ملی در ایجاد کاریابی: پروژه های ملی می توانند نقش مهمی در ایجاد کاریابی در یک کشور ایفا کنند. پروژه های ملی می توانند فرصت های شغلی مستقیم و غیر مستقیم ایجاد کنند. فرصت های شغلی مستقیم مربوط به اجرای پروژه است، در حالی که فرصت های شغلی غیر مستقیم مربوط به تأمین کالاها و خدمات مورد نیاز برای اجرای پروژه است.



نمونه هایی از پروژه های ملی که می توانند نقش مهمی در ایجاد کاریابی ایفا کنند عبارتند از:

- ساخت بندها و نیروگاه های برق
- توسعه شبکه های حمل و نقل
- ایجاد مناطق صنعتی و تجاری
- اجرای طرح های نوسازی شهری

نقش پروژه های ملی در افزایش بهره وری: پروژه های ملی می توانند با بهبود زیرساخت ها، فناوری، و آموزش، به افزایش بهره وری در اقتصاد کمک کنند. این امر می تواند به کاهش هزینه های تولید و افزایش رقابت پذیری منجر شود.

بهبود زیرساخت ها: زیرساخت ها، مانند شبکه های حمل و نقل، شبکه های برق و آب، و سیستم های ارتباطی، نقش مهمی در بهره وری اقتصاد ایفا می کنند. پروژه های ملی می توانند با بهبود زیرساخت ها، هزینه های تولید و توزیع کالاها و خدمات را کاهش دهند.

سرمایه گذاری در فناوری: فناوری می تواند به افزایش بهره وری در تولید، حمل و نقل، و سایر بخش های اقتصاد کمک کند. پروژه های ملی می توانند با سرمایه گذاری در فناوری، بهره وری اقتصاد را افزایش دهند.

تعلیم و تربیه: آموزش و پرورش یا تعلیم و تربیه می تواند به افزایش مهارت های نیروی کار کمک کند. این امر می تواند به افزایش بهره وری نیروی کار و کاهش هزینه های تولید منجر شود.

نمونه های از پروژه های ملی که می توانند نقش مهمی در افزایش بهره وری ایفا کنند عبارتند از:

- توسعه شبکه های حمل و نقل
- سرمایه گذاری در فناوری های جدید
- اصلاح نظام آموزشی

نقش پروژه های ملی در توسعه پایدار: پروژه های ملی می توانند نقش مهمی در توسعه پایدار یک کشور ایفا کنند. این پروژه ها با توجه به مسائل زیست محیطی و اجتماعی، می توانند به حفظ محیط زیست و بهبود رفاه مردم کمک کنند. پروژه های ملی می توانند با کاهش آلودگی، حفظ منابع طبیعی، و بهبود کیفیت زندگی مردم، به توسعه پایدار کمک کنند.

نمونه هایی از پروژه های ملی که می توانند نقش مهمی در توسعه پایدار ایفا کنند عبارتند از:

* ساخت بزرگراه کابل-هرات
* بازسازی بزرگراه کابل-قندهار
* استخراج نفت از چاه‌های قشقری
* استخراج مس عینک لوگر
* پروژه های انتقال برق و گاز از مسیر کشور
* ساخت نیروگاه برق حرارتی در کابل
* توسعه شبکه برق رسانی در سراسر کشور
* ساخت نیروگاه برق آبی در رودخانه کنر
* آموزش معلمان
* ارائه آموزش های فنی و حرفه ای

نتیجه: پروژه های ملی می توانند نقش مهمی در اقتصاد یک کشور ایفا کنند. این پروژه ها می توانند به رشد اقتصادی، ایجاد کاریابی، افزایش بهره وری، و توسعه پایدار کمک کنند. البته، اجرای موفق پروژه های ملی مستلزم برنامه ریزی دقیق و مدیریت صحیح است.


# اعلانات داوطلبی

### د ننگرهار ولایت اړوند جلال آباد ښار په (۲) مه ناحیه کې د زاړه گمرک ځمکې د داوطلبۍ خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د ننگرهار ولایت د جلال آباد ښار په (۲) ناحیه کې د تلاشي څلور لارې سره د زاړه گمرک په نامه سیمه کې چې (د جي، پي، ایس کوردینات نمبر ئې د طول البلد په اعتبار (۷۰,۴۵۷۲۸۰) او د عرض البلد په اعتبار (۳۴,۴۲۸۱۸۷)) دئ، د عامه او خصوصي مشارکت له لارې د پانگوني لپاره اعلان ته وړاندي کړي.
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص چې غواړي یاد ملکیت د پانگوني په موخه ترلاسه کړي، کولای سي چې خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپریدو څخه وروسته د (۴۵) ورځو په موده کې د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوي ریاست ته وسپاري او شرطپاڼه دي د (۳۰۰۰) افغانیو په بدل کې تر لاسه کړي.
داوطلبان دې د داوطلبۍ اړین اسناد له شرطپاڼي سره سم د داوطلبۍ په ورځ د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست ته له ځان سره راوړي. په همدې موخه پر شرایطو برابر د داوطلبۍ ټولو گډونوالو ته خبر ورکول کیږي، چې د داوطلبۍ په دې پروسه کې گډون وکړي.
یادونه: له ټاکلي نیټې څخه وروسته غوښتنلیکونه نه منل کیږي.
د پروژې نوم: صلاح الدین ایوبي سوداگریز او استوگنیز مارکیټ.
پته: د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست.
د اعلان د صدور او ختم نیټه: له ۱۴۰۲/۱۲/۱۶ هـ ش څخه تر ۱۴۰۳/۰۲/۰۱هـ ش
د داوطلبي نیټه: ۱۴۰۳/۰۲/۰۲ هـ ش .
وخت: سهار ۱۰:۰۰ بجې
د اړیکو شمېره: ۰۷۹۶۷۵۷۴۸۶
واټساپ: ۰۷۹۶۷۵۷۴۸۶

### د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند سینما پامیر (۱۴) پوړیزي ودانۍ اول منزل کې د یو باب غرفې د مزایدې خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند سینما پامیر (۱۴) پوړیزي ودانۍ اول منزل کې یو باب (۱۲) مه شمېره غرفه چې (۸،۰۳) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۸۰۰۰) افغانۍ ده د مزایدې لپاره ئې اعلان ته وړاندي کوي.
کوردینات(جي.پي.اس نمبر) ۳٤,٥١٣٤٢-٦٩,١٧٢١٩
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي د ذکر سوي قیمت څخه ئې په لوړه کرایه ونیسي، کولای سي، چي خپل غوښتنلیکونه د( ۱۴۰۲ / ۱۹/۱۲ مي نیټې څخه د ۱۴۰۳ / حمل/۰۴) مي نیټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه ترلاسه کړي.
د آفرگشایۍ ټاکلي نیټه: د (حمل۰۴ مه ۱۴۰۳) د سهار (۹) بجې او (۳۰) دقیقې.
ځای: سینما پامیر، ۱۴ پوړیزه ودانۍ، ۵ پوړ، د دولتي املاکو لوی ریاست –د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦٢٣ -۰۲۰۲۹۲٤٦٢٤

### د کابل ښاروالۍ (۳) مي ناحیې اړوند د (۳) بابه دوکانونو او د ایبک په نوم یو باب هوټل د داوطلبۍ خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ښاروالۍ (۳) مي ناحیې اړوند (۳) دوکانونه او د ایبک په نوم یو باب هوټل په جلا - جلا ډول داوطلبۍ لپاره اعلان ته وړاندي کړي.
۱- د کابل ښاروالۍ (۳) مي ناحیې اړوند کوټه سنگي په نظیف مارکیټ کي د ایبک په نوم (A۰۱) شمېره هوټل چي (۲۸۲،۰۸) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (٦٥۰۰۰) افغانۍ ده.
۲- د کابل ښاروالۍ (۳) مي ناحیې اړوند کوټه سنگي په نظیف مارکیټ کي یو باب (A۰۲) شمېره دوکان چي (۴٦،۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۳۰۰۰) افغانۍ ده.
۳- د کابل ښاروالۍ (۳) مي ناحیې اړوند کوټه سنگي په نظیف مارکیټ کي یو باب (A۰۳) شمېره دوکان چي (۴٦.۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۳۰۰۰) افغانۍ ده.
۴- د کابل ښاروالۍ (۳) مي ناحیې اړوند کوټه سنگي په نظیف مارکیټ کي یو باب (A۰٤) شمېره دوکان چي (۴٦.۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۳۰۰۰) افغانۍ ده.
کوردینات(جي.پي.اس نمبر) ۳٤,٥١٥٢٧٢-٦٩,١١٧٤٦
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دولتي ملکیتونه په کرایه ونیسي، کولای سي، چي خپل غوښتنلیکونه د( ۱۴۰۲ / ۱۹/۱۲ مي نیټې څخه د۱۴۰۳ / حمل/۱۰) مي نیټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه تر لاسه کړي.
د آفرگشایۍ ټاکلي نیټه: د (حمل ۱۱ مه ۱۴۰۳) د سهار (۹) بجې او (۳۰) دقیقې.
ځای: سینما پامیر، ۱۴ پوړیزه ودانۍ، ۵ پوړ، د دولتي املاکو لوی ریاست –د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦٢٣ -۰۲۰۲۹۲٤٦٢٤

### د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند سینما پامیر (۱۴) پوړیزي ودانۍ لومړي پوړ کي د (۸) مي شمېرې غرفې د مزایدې خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چي د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند سینما پامیر (۱۴) پوړیزې ودانۍ لومړي پوړ کي (۸) شمېره غرفه، چي (۴،۱) متر مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱٦۱۱۰) افغانۍ ده د مزایدې لپاره اعلان ته وړاندي کړي.
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوی دولتي ملکیت په لوړه کرایه ونیسي، کولای سي، چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۷/۱۲/۱۴۰۲ مي نیټې څخه د۱۴۰۳ /۰۱/۰۱) مي نیټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه تر لاسه کړي.
د آفرگشایۍ ټاکلي نیټه: د (حمل ۲ مه ۱۴۰۲) د سهار (۹) بجې او (۳۰) دقیقې.
ځای: سینما پامیر، ۱۴ پوړیزه ودانۍ، ۵ پوړ، د دولتي املاکو لوی ریاست –د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦٢٣ -۰۲۰۲۹۲٤٦٢٤

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤٤٤٠(+)




# Affairs of Major Customs Improved by 20% Compared to Last Year – MoF



The implementation of the effective policies of the 'General Directorate of Customs' aftermath and the special attention of the leadership of MoF, compared to the month of Dalw of the previous year (Hijri), revenue collection, trade, customs value of imported goods and the number of commercial shipments and the recorded weight in the areas of "Paktia, Farah, Herat, Nimroz, Nangarhar, Balkh, Kunduz, Khost and Kandahar" customs affairs have owned betterment on average 20% in the current fiscal year, which means that a large amount of customs revenues is obtained from these customs. The leadership of MoF appreciates the conscientious actions of the officials and employees of the mentioned customs and their activities in this regard.

# MoF Appoints Qualified Candidates Through Competitive Exams in FY1402



Apporiximatlly, '600 candidates attended' in the examination process through competitive exams in FY1402, which was facilitated on behalf of MoF for the aim of appointing professionals in the relevant vacancies, recruiting qualified applicants, providing work opportunities for cadres or professional staff and establishing permanent professional bodies. All the recruitment exams by MoF have been conducted with full transparency according to all the principles of examination process, so that in different posts related to this Ministry, more than 120 professionals were assigned in the FY1402. The leadership of MoF, by looking at the importance and professionalism of its affairs tries to recruit the country's professional, experienced and knowledgeable personnel to the relevant posts through competitive exams and in such manner to provide excellent and transparent services for the nation timely.




# د کاسا - زر (CASA-1000) پروژه د نړیوال بانک له خوا د بیا ملاتړ په خاطر بیرته را ژوندۍ سوه




د اېشیا پلَس ـ asiaplus په نوم یوې تاجیکی رسنۍ د څلورو هیوادونو تر منځ د یوې لویې پروژې د ارزښت او را ژوندۍ کېدلو په هکله راپور خپور کړی دئ، چي دا څلور هیوادونه له شمال څخه د سویل پر لور؛ له قرغزستان، تاجکستان، افغانستان او پاکستان څخه عبارت دي او په اړه ئې وایي، چي د «مرکزي اسیا – سویلي اسیا» د برېښنا د لېږد او سوداګرۍ پروژه، چي د کاسا - ۱۰۰۰ په نوم مشهوره ده، د نړیوال بانک د (۱,۲) بیلیونو امریکایي ډالرو پروژې له برکته بیرته را ژوندۍ سوه. نړیوال بانک د فیبروري په (۱۵.) نېټه اعلان وکړ، چي د دریو ملکونو؛ لکه: تاجکستان، قرغزستان او پاکستان په غوښتنه به په افغانستان کي د کاسا – ۱۰۰۰ پروژه بیا پیل سي. راپور د نړیوال بانک په حواله لیکي، چي په افغانستان کي به د انرژۍ او سوداګرۍ یاده پروژه په حلقوي ډول بیا پیل سي. راپور دا خبره تائیدوي، چي وایي په قیرغیزستان، پاکستان او تاجکستان کي ئې ساختماني چاري تقریباً بشپړي سوي دي. د یادي رسنۍ په متن کي د نورو دریو هیوادونو د چمتووالي او اعلامیې له مخي د دې پروژې په تړاو د نړیوال بانک له خوا تحسین په داسي ډول راغلی دئ، چي وایي: «د قرغزستان د انرژۍ وزارت یوه اعلامیه خپره کړه، چي د پاکستان او تاجکستان له خوا په ګډه لاسلیک سوې ده او نړیوال بانک د دې پرېکړي ستاینه وکړه.» د دې پروژې د ارزښت په اړه داسي توري را اخیستل سوي دي: «د کاسا – ۱۰۰۰ برېښنا د لېږد عصري سیستم به د سیمي په بدلون کي مرستندوی تمام سي او دا د پلان سوي مرکزي اسیا - جنوبي اسیا د سیمه ییزي برېښنا بازار پر خوا یو مهم ګام ګڼل کیږي.» متن د مرکزي اسیا ـ سویلي اسیا د سیمه ییزي برېښنا بازار یا کاسارېم (CASAREM) نوښت په اړه وایي، چي دا نوښت به نه یوازي له یادو څلورو هیوادونو سره مرسته وکړي؛ بلکي برېښنایي سیستم به ښه کړي او د منځنۍ اسیا او جنوبي اسیا تر منځ به د سیمه ییزو همکاریو پراختیا ته د پرورښت مفهوم افاده کړي. په راپور کي ئې د بودیجې یا مرستي په باب د «نړیوال بانک، اسلامي پراختیایي بانک، د اروپا د پانګوني بانک او د بیارغوني او پراختیا له پاره د اروپا بانک» نومونه راغلي دي.

# MoF Provides About 50 Training Programs For Newly Appointed Employees

The activities of MoF, as a key and professional ministry of the country, are of great value at nation-wide; therefore, the recruitments of employees in all bodies related to this ministry in terms of ability, honesty and professionalism are done through competitive exams. Additionally, MoF has also provided useful training programs for the newly appointed employees in order to improve the daily activities in the relevant fields. On behalf of Directorate of Human Resources of MoF, convenient theoretical and practical training seminars were organized for newly appointed employees in different positions of MoF by experienced trainers during FY1402 in the fields of finance, procurement, tax law on revenues, SIGTAS system, revenue procedures, technical, managerial, leadership and professionalism. It is merely worth noting that MoF-run series of training for newly hired staff by the Directorate of HRs has resumed and planned to prolong the said series for the next year by mean of new methods.




د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چي خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.